مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالخالق رشید

۲۰۲۳/۰۹/۱۲

الله گل دانه دانه ، دانه دانه
شوروي قارکده نمیره خانه
الله گل دانه دانه

*
*
**
***
****
********
*************



# د مرسلي پرسر ستوري

## (ناول)

لسمه او وروستۍ برخه

۱۹۸۰ ـ ۱۹۸۶ کلونه

لیکوال

ع .رشید



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

تـــــوره چـــې تيريـــږي خـــوګوزارلـــــره کنـــه...
دروسي يرغل څلورم کال دنوامبر وروستۍ شپې ورځې وې چې يوسهارمهال وختي دچورلکوګردونه دغونډ په شمالي خوا کې پورته شول،دنادرجان د قطعې ټول قوماناندانان دکرچکوف پرموضوع باندې خبروو، نه يوازې خبروو بلکه پرې خواشيني هم وو، دوی سره له دې چې سرتيري وو،دمجاهدينوپرضد جنګيدل خو په ملي مسالو کې دوی تر مجاهدينو هم ژور فکرکاو اوپياوړی هيوادپال وو،دوی هم افغانان ول،ځکه خو يې يوبل په سمه توګه سره پيژندل،پردې هم پوهيدل چې دواړه خواوې ديوه اوبل سرونه يوازې د نورو له پاره ماتوي ...افغانان دا اوسني بد مرغ کړل شوی قوم سره له دې چې په بې اتفاقۍ يې اتفاق سره کړی،د لويې بدمرغۍ په وړاندې يوه اوبل ته ګونډې سره وهې اود لويې بدمرغۍ په وړاندې سره يوکيږي ... دغلامۍ او نوکرۍ کړۍ به يې په غاړه کې وي خو چې خبرو ته يې غوږ کيږدې ، نوفکرته دې دا خامخا درځي چې پردنيا يوازې دی دی اودده لوړغرور... که ديوه لوی ځواک په زندان کې پروت هم وي نو فکر به کوي چې دا بدمرغي ده په خپله پرځان راوستې ده او که نه خير او خيرت دی ... که له شتمن سره مزدور هم وي،نوفکرکوي چې دهغه ټوله شتمي دده ده ... ځکه خودا په انسانانوکې يوبل شان کرکتر دی او بل شان تيپ... !
پردغه ورځ هم افغانان کرچکوف ته يوشان خواشيني وو، نادرجان خوکله چې الوتکې والوتې، په چغو چغو وژړل،داسې چې ان غړيې په ټوله سيمه کې انګازې خپرې کړې وې، داسې انګازې چې دا شان انګازې په هغو ورځو کې چې لس، دولس تنه به شهيدان شوي وو دلته پورته کيدې ... جوړه الوتکې ، د مرسلې پرلور چې دلمرځرک لوری و له سترګو الونياشوې،خو نادرجان لا ژړل او لايې پرمخ د اوښکوتودې ليکې را روانې وې ،لا يې په الوتکو پسې کتل چې هغه دروسي موټرچلونکي خبره ورياده شوه:
ـ ملګری دې نور په قيامت کې غواړه...
»»»
کرچکوف خواشينی د چورلکې دايروي هنداري ته نژدې ناست و، د وروستي ځل له پاره يې خپل غونډ ته په خيرځيروکتل،سترګې يې کښته نيولې وې ، پر زړه يې د چا خبره تورو وينو خپل څپاو وروووړله هنداري يې بيا پرمرسله سترګې ولګيدې، انينا ورياده شوه، اوله مرسلې سره دهغې مينه،خپله خبره ورياده شوه:« که ژوندي پاتې شوو اونصيب را سره مل و، راتلونکي پسرلی به يې نندارې ته ورځواو ياد ګاري عکسونه به يې په پسرلنيو ګلونوکې اخلو«....
ترګردوسخته لا داوه چې کرچکوف نه غوښتل له افغانستانه شوروي ته ولاړشي،خوله بده مرغه چې دخپل زړه دغه غوټه يې لکه د خپل شخصيت په شان ډيره ناوخته خلاصه کړه . ډيره ناوخته... په دغه شيبه کې چې ده له هنداري دمرسلې اودهغې د شاوخوا ننداره کوله او الوتکه مخ په وړاندې روانه وه ، زړه يې دومره د رزا کوله چې تا به ويل روح يې له بدنه جلاکيږي.د مرسلې شاوخوا د اوبو بند له هوا داسې ښکاريده چې تا به ويل الوتکه د سمندرپه غاړه روانه ده ...چې يو نا څاپه له مخکنۍ چورلکې مخابره وشوه:
تورن جنرال الکسي ... غواړي چې ددغو شنو او ښکلواوبو پرسرالوتنې ته دوام ورکړي ، پرموږ پسې راځۍ...
ـ سمه ده اطاعت کيږي...
دکورچکوف په چورلکه کې څلورتنه روسي سرتيري يوازې دده د محاصرې په خاطر ناست ول،په مخکنۍ هغې کې يوازې هم هغه مهم کسان ناست وواوبس ... هغوی ته د « سردې » پربند د پاسه الوتنې ښه خوند ورکړی و، ځکه خو دوی غوښتل چې ددغو شنواوبو پرسربانديې يوځل بيا را وچورلې ... خو کرچکوف اوس له لوړو لوړود مرسلی ننداره کوله اوهغې ته يې کتل،دهغې دهرې تيرې زړه ته ، دهغې دنګې لوړتيا ته، دهغې آرام زړه ګي ته اودهغې پرسرد سپينوزانوکتارونو ته...
دتورن جنرال الکسي ... ځکه دسردې دا لوړه خوښيده چې دهغه پلار کلونه مخکې د سردې بند په پروژه کې د لوی انجنيرپه توګه کارکړی و،دی هم ورسره راغلی و، ده هم د مرسلې کيسې له خپل پلاره دلته اوريدلې وې ،ځکه يې غوښتل چې ددغې ښکلې سيمې ښه ننداره وکړي،خومخکنۍ چورلکې زرخپله لارلنډه کړه اودبند پرلوړوباندې وړاندې ولاړه نه شوه ، ځکه هغوی ته پته وه چې که مخکې ولاړشی،نودغه ننداره به يې په غم بدله شي دلوړو اوټيټو غونډيو پرسرونو يې دافغان جنګياليو ډلې يوې اوبلې ته ليدې چې يوې اوبلې خوا ته يې د کوم درانه يرغل تابيا کوله ... هغوی به چې په دغوشپو ورځوکې دروسي پوځيانو چورلکې په هوا کې وليدې، داسې به ورته هوسيدل لکه ښکاريان چې نابېره مونډلي ښکارته خوشاليږي ... روسان پوه شول چې خطر دی،راوګرزيدل اود الوتکې تګلوری يې پرشمال ختيز لورکړ، خو کرچکوف لاهم په خپله غمجنه دنيا کې رنګا رنګ سوچونواو چرتونو په خپل ښکيل کې رانيولی و، په هغه دنيا کې چې ده ته ورمعلومه وه او دی پرې پوهيده ... هغه اوس دا فکرکاوه چې نورنود سره وحشت په خونړيو منګولو کې لويدلی دی اونيغ دخپل مرګ پرلورور روان دی،دده لوی ارمان تراوسه هم داو چې کاشکې خود دوی (روسانو) منګولو ته د ګناه اوګناهګار په نامه نه وای ورلويدلی، ځکه هغه اوس پوهيده چې دده برخليک بس


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

يو څه دی ، يو نوم دی چې هغه مرګ دی اوبس ځکه چې دی په يوه لويه ګناه تورن شوی و، لويه ګناه هغه هم دښمن ته داطلاعاتوپه ورکولو سره ...اوس دده له پاره داګرانه وه چې د ښاپيرو په وطن کې د دوزخي ژوند سختې اودرنې شيبې د ژوند په وروستيو کې وګوري ... ده ته دده دنظام خيالی جنت ډيرښه معلوم و،ده په افغانستان کې سره له دې چې دلته قيامت روان و،خوبيايی هم د آزاد انسان اوآزادۍ هنګامه اوريده ، او دهغې ترسيوري لاندې يې د يوه آزاد انسان احساس دځان مل کړی و... هغه اوس په چورلکه کې داسې ناست ولکه د قصاب پردکان باندې تړلي پسه ...که چيرې انسان د څوشيبو له پاره دهغه پسه پرځای ځان په هنداره کې ووينۍ ، له ډيره غمه به يې زړه ونه چوي؟ دده په زړه کې هم دغه خبره ورتاويده :کله چې انسان په همداسې دريځ کې حق حيران کيږي ،هغه دځان د ژغورنې په خاطر په دوه لارې کې دريږي ...دوه لارې کې چې يا يې بايد زړه له ډيره غمه وچوي اويا بايد خپل تقديرته په دغه شيبه کې بدلون ورکړي ... چې بدلون يی انسان له عادي حالته بايد دانحراف پرپوله ورواړوي ... چې پايله يې کله کله ښکاره غميزه هم کيږي ... خو کرچکوف اوس په لومړي حالت کې و، هغه اوس په رښتيا هم خپل ځان خپل تقديرته ورحواله کړی و،په همدغه حالت کې وچې له مخکنۍ الوتکې غږ پرې وشو:
ـ دخطر پرلوريو، پرله پسې ګولۍ را باندې...
پورتنې خبره لا نه وه بشپړه شوې چې دويمه چورلکه په توغندي ولګيده اود کرچکوف د اوږده فکرلړۍ يې سره وشلوله،دهغه انسان د فکر لړۍ چې يوازې يې له مرګه پرته د نورڅه په باره کې فکرنه کاوه، په همدغه شيبه کې له مخکنۍ چورلکې واوريدل شول:
-چورلکه بيرته د غونډ پرلور...
ـ اطاعت کيږي...
پيلوټ ډيره هڅه وکړه چې پرشا ولاړشي ،هغه په ويشتلي وزر را وګرزيد،خو داسې ښکاريده چې ترغونډه به روغه ونه رسيږي ... هڅه يې وکړه ، خو چورلکه يې ترغونډ پورې ونه رسوله ، اوهغه چورلکه د مرسلې په لويديزه خوا کې را پريوته،راولويده ، وايي چې دخوارقسمت هم خواروي ،هغه چورلکه چې د مخه روانه وه او مهم کسان په کې وو، پرهغه شګه هم ونه لګيده ، اوټکه بياهم پرهغوڅو ساتونکو او زنداني ګناهګار کرچکوف باندې راولويده... په کوم ځای کې چې را ولويده ، هلته د افغان جنګياليو مرکزو، هغوی ځانونه ور و رسول ، کرچکوف او ملګرو يی د اوراو وينوپه منځ کې ساه ايستله،هغوی يې د لمبو له منځه راويستل،لا ژوندي ول،کرچکوف هم ژوندی و،خوله سره يې وينې راتلې ... ښايسته خان قوماندان دی وپيژاند،راپورته يې کړ، په غيږکې يې ونيو اوپوښتنه يې ترې وکړه:
ـ ته کرچکوف نه يې ؟ ته...
کرچکوف چې کله خپل نوم واوريد، يوازې يې د سرپه اشاره پوه کړ چې هو،کرچکوف دی ... ښايسته خان له هغوقوماندانانو څخه و چې دا څو ورځې يې کرچکوف ته سترګې په لاره وې او تياری يې ورته نيولی و...
خو اوس دهغه حالت ډيربد و،هغه يې زر ترکلي پورې ورساوه،هلته يې تربيړنۍ درملنه لاندې ونيو ... دهغې چورلکې يوه سپرلۍ هم تر کلي پورې ژوندۍ ونه رسيده ، کرچکوف وروستی ژوندی و چې لايی هم ساه ايستله،افغان جنګياليو ډاکتران ورته راوغوښتل،او تردرملنه لاندې يې ونيو...ګرد کليوال نارينه او ښځينه د هغه د ننداري ته راوتلي وو او پاک الله ته لاس په دعاوو چې روغ يې کړي ، کلی ټول غمجن و، ټولو ژړل او ټول داسې غمجن ښکاريدل چې فکر دې کاوه کوم لوی د آزادي ننګيالي شهيد شوی دی او ياهم د ډاکترنجيب الله کوم لوی منصبدار... په کلي کې دا څو ورځې دا آوازه وه چې کوم لوی رسی منصبدار په دې ورځوکې تسليميږي او دلته را روان دی ... خو دريغه چې هغه اوس په داسې حال کې دلته رارسيدلی و چې نوريې څه په نابوده نه وو پاتې ...او دهرڅا ، هرخبرې ځواب به يې په دسترګو په اشارو سره ورکاوه...
په غونډ کې کې لويه هنګامه خپره شوه ... کرچکوف او ... ټول مړه شول ، چورلکه وسوه ... په سلګونو پوځيان د چورلکې د لويدو سيمې ته ورسيدل، له چورلکې تراوسه هم دودونه پورته کيدل،تراوسه هم هلته اورونو دانسانانو په غوښواووينو باندې لمبې کولې ... دهغوی چې کرچکوف يې ماسکوته ترلي لاسونه روان کړی و، حال نه معلوميده چې لړ ترلړه يوه ښه خويي بايد ومومي ... اورونولاهم لمبې کولې،خوڅه ښه اوڅرک يې ونه موندل چې ترې را ايستلي وای...
او کرچکوف دلته خپله لومړۍ شپه ترسباپورې بدرګه نه کړه، دهغه وروستۍ ساه د هغه د دښمن ؟ په غيږه کې وخته،دهغه زنکندن د ننګيالي ښايسته خان په غيږکې و،يوځل يې چې زړه ډير درد ورته کړی و ترې پوښتلي وو:
-زيات خوږشوی يې ؟ موږ وبښه ...موږ فکرنه کاوه چې ته به په دغه چورلکه کې وې...
کرچکوف چې دخبرو توان له لاسه ورکړی و ، يوازې يې دده لاس په خپل لاس کې کښګلی واو يوڅو پرې شوي ټکي يې ترخوله را وتلي وو:
ـ دو ... دوست ... آه ، آرام...
څو خلې يې يوې او بلې خوا ته سترګې سره اړولي را اړولي وې،داسې چې ګواکې په يوچاپسې ګوري،چې بيا يې ترخوله راوتلي وو:
ـ نا ... نادر...



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خوکرچکوف خپل ډیرنژدې دوست نادرجان دزنکندن په شیبو کې ونه لید ، هغه ورته را ونه رسید، دنومبر وروستۍ جمعه وه چې کرچکوف نورد تلپاره له دغې نړۍ سترګې پټې کړې ، تر وروستۍ شیبې پورې به یې چې ښایسته خان ته کتل ، نوهغه دوه ټکي یې په خوله کې وو:

ـ دو ... دوست ... آه ، آرام...

لمر لا نه وراختلی چې نادرجان چا ورته راورساوه ، نادرجان،هغه څوک چې دایوه اوونۍ یې دده په غم او لیدوکې تیره کړې وه ، د ده مړي ته ودرید،دده ښیګړې یې یوه یوه په سترګو کې لاړې او راغلې ...هغه ښایسته خان ته مخ ور واړاوه چې باید روسانو ته یې ونه سپاري،نادرجان دده دوست واو دی دانسان... انسان چې ترشوروي هم ده ته مهم و... نادرجان ورته راورسید،دهغه د کفن پیسکه یې ترې لرې کړه ، ورته په ژړا شو، داسې چې ګواکې دده کوم افغان روسانو شهید کړی دی او په ونیو لیت پیټ ورته پروت دی ... څومره نادره خبره ده چې د دښمن دومره لوی چارواکی ته دهغه دښمن په چغوچغو وژاړي ... هغه هم بیا افغان ، داسې افغان چې پرهیواد یې تیرې شوی وي ... دا سې شیبه به د نړۍ دجنګونو په تاریخ کې ډیره لږ لیدل شوې وي لکه چې نن دلته روانه وه ... نادرجان دهغه په زخمی زخمی بدن باندې لاس وواهه ، دده د کوماندویي جمپر له جیبه یې دده کاغذونه را ویستل،یوشمیریی پخوانی وو،خو یو شمیرېې داسې ښکاریدل چې همدا تیره شپه لیکل شوي دي، نادرجان دهغه کوچنی لیک ته چې د نومبر په (۲۶ ) نیټه دشپې (۱۳ ) بجو لیکل شوی نورهم را ډک شو، ستونی نورهم وژړل ، پرسترګو یې د اوښکو پردې را خورې شوې،خو لیک یې سترګوته نیولی و:

»مهربانه نادرجانه ، څومره چې زرکیدای شي ما له دغو یرغلګرو وژغوره ، زه نور له دوی سره نه شم پاتېیدای اونه دوی ما نور زغملای شي ، ځکه چې ما خپله دنده دانسان په مقابل کې په انساني توګه ترسره کړه ، تردغه وخته زه دلته پاتې کیدای شوم ، پاتې شوم ، دوی په دې پوهیږ.ی چې زما زړه او وجدان له افغانانو سره دي،له افغانانوسره په مرګ او ژوند دواړو کې مینه کوي،تاته زما هرڅه روښانه دي، زما زړه له دوی سره و،او زما روح له اذله خپل وزرونه پردوی باندې غوړولي وو، زه باید د روسانو ددغه تاریخي ظلم په وړاندې یوازنی روسی یم چې سرکښي کوم،زما روح باید ستا په غیږ کې زما له تنه بیله شي،کله چې زه په افغانستان کې له افغانانو سره د مینې په توراو جاسوسۍ ومرم ، زما روح به هم هغه ورځ د ابدی آرامۍ احساس وکړي ... نورته خپله په هرڅه ښه پوهیږ.ې ... ورور دې کرچکوف...

دابل لیک د اکتوبر په (۲۴ ) لیکل شوی ، سرلیک نه لري ، خو ترپایه لیکل شوی و، هغه لیک بې سرلیکه و،خو خبرې په کې ډیرې وې ، هغه لیک هم نادرجان لوستی و:

»ستا له مینې ډک لیک را ورسید، ستا ښکلي انځورمې ستا دلیک ترویلو دمخه ښکل کړ، په دې چې هغه ستا دمینې او ښکلا دواړو بوی ترما پورې را ورساوه ، په دې هم خوشاله شوم چې زما لیکونه دررسیږ.ي ،پام چې هغه به ټول راته ساتې ،زه د هغو له لارې په افغانستان کې زموږ. دپوځیانو د ژوند یوه څرک تاته دربښیم ، تا ما ته د ... دخبرو یوه برخه چې ویلی یې دي،زموږ. پوځیان په افغانستان کې دهغه هیواد له خلکو سره د دوستۍ پارکونه جوړوي ...لیکلې وه ، د ټي وي پرمخ ددغې خبرې ویل ډیرګران کار نه دی، خو را شه ماته غوږ. شه چې دیوې شیبې له پاره زه څه درته لیکم:« افغانان میړني خلک دي، دوی کوم کوچني کلی نه دی اونه دومره کوچني هیواد دی چې هغه به روسان په آسانۍ سره ترستوني تیرکړای شي ،زما یو دوست ماته تل ددغه هیواد د خلکو په اړه رښتیا وایي ، هغه ددغه هیواد دخلکو د اندو ژوند په تاریخ کې ښه مطالعه لري ، زه چې کله له هغه ددې هیواد دخلکو په تیره بیا لویو اولرغونو اوسیدونکو په یولړخبرې اورم ، زما د بدن ویښته زیږ.ه شي، زه چې دلته دم ګړۍ د دوی مقاومت ګورم ، که داخلک همداسې هم سره یوه خوله اویو ځواک شي و، یوبل د کفراواسلام په نامه سره بېل نه کړي، اویا په دغو نومونو یوبل ونه وژني، د دوی ایلول زموږ. سورپوځ خو پریږ.ده چې امریکا هم ورسره شي ، نا شونی کار دی، وایې چې دلته ښځې اونارینه یوشان قرباني ورکوي،خوتراوسه لاښځوته وارنه دی ور رسیدلی... زه پوره باورلرم ، چې زموږ. ماته او د دنیا یوه تاریخي لوبه چې زه یې اوس اټکل نه شم کولای له همدغه هیواده،له همدغو افغانانو چې که پردیو ونه غولول پیل کیږ.ي ... دا خکه چې له دغو خلکو سره ډیرلویه جفا شوې ده ،دوی حق لري چې موږ. او هغوی چې لاهم دوی ته د جګړې په څواوکمین کې ناست دي،د دنیا په وړاندې وشرموي ، زه باورلرم چې دا کار به کیږ.ي اوکیدونکی دی ... زه داهم درته ویلای شم چې دریغه داخلک د جاسوسانو اوشیطانانو دجالونوپه ښکیل نه وای نښتي ،دریغه چې دوی د دنیا د شیطانت اودهغه په نیرنګونو باندې پوهیدای ... دریغه ... بیرته ستا خبرې ته راګرځم ، هغه داچې له کومه وخته چې موږ. دلته د یرغل پرشوبلو باندې سپاره راغلي یو، له کومې ورځې چې موږ. دلته ددې وطن قانوني حکومت په زور چپه کړی،موږ. دلته ددغو خلکو له خوا نه دوستی لیدلې اونه موهم د دوستۍ پارکونه، دلته موږ. د دوستۍ د پارکونو پرځای د وینو دبهیر ننداره کوو، دلته ژوند له ژوند سره په مقابله اوآزموینه کې دی،دلته هره ورځ زموږ. په سلګونو روسي پوځیان خپل سرونه له لاسه ورکوي،موږ. دلته یوازې د خپلو بارکونو دننه کولای شود خپلو ملګرو په مرګ اودرد باندې وژاړو، یوازې کولای شو چې دخپل مورال د لوړولوپه خاطریوڅوعکسونه د بارکونو پردیوالوباندې وځړوو، زموږ. لویه همدردی له خپلو شهیدانو سره همدا داده اوبس، ستا به باورونه شي چې زموږ. په وړاندې څه ډول انسان ولاړدی ؟ داسې انسان چې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ. سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږ.لو مخکې په ځیر و لولئ

په مرګ اوژوند دواړو کې یومورال لري ، که یې ووژنې ځان ته شهید وایي اوکه دې ووژني نو بیا ځان اتل اوغازي بولي ... دوی وایي چې غازي په ژوند سرلوړی دی او شهید په مرګ،څه فکرکوې چې موږ به داشان ارادې او سرکښې ارواوې ماتې کړای شو؟ نه کله به هم داکار ونه شي .موږ ښایی دلته کلونه کلونه پاتې شو، ښایي کلونه کلونه نورهم ومرو خو باوردی چې پایله بیاهم ماته ده اوبس ، له موږه وروسته ښایي نورهم دغه هیواد ته د را تلو هوس وکړي ، خو زما باوردی چې هغوی به هم له دغو خلکو روغ سرونه اوسرلوړي ځانونه ونه باسي ...هو، ته داسې فکرمه کوه اومه پردغه خبره غولیږه لکه د ښاغلي ... چې ګواکي موږ له افغانانو سره د دوستۍ پارکونه جوړوواو د دوستۍ نیالګي په کې ایږدو،زموږ کوږ نیالګی به کله هم دلته ثمر ته ونه رسیږي ...موږ به دلته ډیرکلونه پاتې شو، موږ دا ملت له خپل یرغل سره سم بدمرغه کړی دی ، موږ به نورهم دوی د ژوند له ډیرو ښیګړوڅخه بې برخې کړو،خو یوه خبره دې زما اوستا په دغه لیک کې یادګاروي اوهغه داچې شوروي به له همدغه ځایه دخپل زوال سندره پیل کوي،هم هغه خبره سمه ده چې وایي، لمرله ختیزه راخیږي اوپه لویدیز کې په غرغړو او زیړو وړانګو سره لویږي ...دلته هم خبره همداسې ده،موږ به ترهغو دلته وو،... اوترهغوبه پردي دا ملت ځپي اوخواروي ترهغویې چې خپل پلورل شوي جاسوسان په مکراوتذویرسره په مخکې وي ... دا ملت به ترهغو اوچته ساه ونه باسي ، ترڅویې ( دغه د نورو په اراده جوړشوي تش په نامه اتلان ) په مخ کې وي، دوی دا وطن بدمرغه کړی،دوی نورو یوازې د ورانۍ له پاره جوړکړي او روزلي دي نه د جوړونې او ودانۍ له پاره...

هو، موږ به دلته کلونه کلونه نورهم پاتې شوو، خو دا به زما اوستا ترمیان وي چې زموږ مختورو واکمنانو موږ ته ددغه ملت په وړاندې له شرم او ننګ پرته نورڅه راپرنښودل ، پرسکندر یونانیانو وویاړل،پرناپلیون فرانسویانو،خو زموږ په سرکوزو به کله هم دیوه روسي سراوچت نه شي...

موږ به کلونه کلونه دلته پاتې شوو،خوموږ به زیاتې میندې دخپلو بچیانو پروینولیت پیت جسدونو باندې وژړوو، ډیرې میندې ، ډیرپلرونه...

هو، یوه ورځ داسې هم راتلونکې ده چې زموږ د زلمو ډیرې میندې به دخپلو زامنو د مرګ او ورکې غمونه کلونه کلونه نورې هم وردو وي ...همدا اوس هره ورځ زموږ زلمي مري ، ژوندي ورک کیږي،دا څه آسانه خبره نه ده ،د دوی هریو دیوې مورپه غیږکې لوی شوی ، اوهلته لاهم یوه مور ورته سترګې په لاره ده...ته پوهیږې چې کله روسان دغو خلکو ته په لاس ورشي څه نخرې ورباندې کوي؟ په کوم شان یې وژني ؟ دیوې شیبې له پاره دغه صحنه په ذهن کې در تیرولی شې چې دلته به روسي دغچ اخیستني پراحساس په څه شان لکه پسه حلالیږي ، اوپه څه ډول دتوروحشت ترتورې لاندې په څه شان ترپکې وهي ؟ هو، داکارزموږ دکړوپه وړاندې یو روا اود ویاړ وړچلند دی...د ګرد شوروي پرمیندو دا زیری وکړه اوپه رموزکې ورته ووایه چې ددې وطن میندې له خپلو بچیانو سره ببر سرونه، یېلي پښې، وږې تږې سنګرپه سنګرزغلي او چې په هردمه ځای باندې سترې ستومانه دمه کوي، بیاهم په سترو ځانګونو دخپلو بچیانو اوجنګیالود بریوپه خاطراوږدې اوږدې دعاوې کوي ... زموږ د وطن میندو ته ووایه چې ددې وطن د زلمو میندې موږ ته شپه او ورځ اوږدې اوږدې ښیراوې کوي اوهمدا چغې وهي چې روسان ظالمان دي ، یرغلګردي،زموږ دیاقوتودغمیو په شان زلمي راته وژني،زموږدغه بچیان چې موږ په کوڅو او بازارونه کې نه دی موندلي،دوی موږپه خپلو سترو غیږوکې په هیلوسره روزلي او لوی کړي دي ...دغه میندې داهم وایې چې زموږ بچیان پرحق دي،دوي به یوه ورځ لکه چې ویتنامیان پرامریکایانو بریالي شول اود سپیو په شان یې له خپل هیواد چغه کړل ، پرموږ باندې به هم ورځې شپې کړي اودتښتې لاره به راڅخه ورکه وي...

موږ به دلته کلونه کلونه پاتې شوو ... په دغو اوچتوغرونو اودغوتنګو درو کې ، داغرونه خورا اوچت دي ، دلته اسطورې او افسانې داسې تللې او راغلې دي چې وایي ددغو غرو د اسطوریې پهلوانانو خوراک د انسانانو سرونه وو، دلته زیاتو بریمنو خپل سرونه له دغوغروسره جنګولي او مات کړې دي ... دغو غرونو د ډیرو زورګیرو ملاوې په خپلو دغو تنګو درو کې ورماتې کړې دي ، ځکه خو ددې وطن هره تیږه،ونه،غر،انسان او ان حیوان هم همدا اوس زموږ وینوته تږي ناست دي،زه دا نه شم منلای چې موږ به دوی ګرده له بیخه لرې کړو، دا کارناشونی دی، ددې وطن انسان لکه چې دغچ اخیستنې تاوده احساسات لري،همداسې یې د مینې اوآزادۍ اخیستنې ولولې هم دومره پیاوړې دي چې انسان ته په ښکاره دمینې او انسانیت درس ورکولای شي،دا خلک یولوی حماسه جوړونکی شاعر لري چې خوشال خټک نومیږي،ده دغو خلکو ته داسې ماسې اوحماسې ورپه برخه کړې دي چې هرشعراوهره سندره یې ددې خاورې هربچې د ژوند او ویاړپه لاره کې له یاده نه شي استلای:

توره چې تیریږي خو ګوزار لره کنه

زلفې چې ولول شي خو خپل یارلره کنه...

موږبه کلونه کلونه دلته پاتې شوو ...کله چې په هراوونۍ کې زموږ دټولیو قوماندانان دخپلو سرتیروشته والې ښیې،په هغوکې ښکاري چې د لومړۍ ورځې له سرتیرو څخه یوازې یو یا دوه په دغو لیکو کې ترسترګو کیږي،ماناداچې دلته زیات شمیرسرتیرې مري او ورک کیږي ...دلته خلک اوس پردې هم ښه پوه شوي چې دا پردي دي چې دوی دخپلو جاسوسانواولاسپوڅانو په واسطه جنګوي ...اوداپردي دي چې دلته یې د جګړې له پاره ډول ډول وسیلې له ځان سره راوړې دي ...هو، ته باید ومنې چې ددغه وطن دمیندو ښیراوې به آخرزموږ پردغې لویۍ باندې داوربځرکي راواوروي...

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

راخه يوه د زړه خبره هم درسره شريکه کړم،ته خوپوهيږې چي زه اوس پرخپل زړه او اراده پوهيږم چي زما زړه د هرې ورځي په تيريدو سره ددې هيواد له غرونو او آوارو دښتو سره غزيدنه کوي ...هم هغسي چي ته تل را ته وايې چي زما وينه دهمدغودنګو غرونو دخلکودوينوخورده ، راته ښکاري چي دغه خبره لکه چي رښتياده،په دې چي زه خپله په خپل زړه او داحساس په کوګل کې يومرموز راز اورمزاحساسوم،هو،مور. بايد خپل زړونه ددغو کلکوغرونو لړيوته ورنژدې کړو، په دې خاطر چي مور. له دغي خاورې ژوندى او سرلوړي نه شو تلاى، پريږده دومره خووکړو چي که دلته ووژل شو، چي مري خوموږ انسان په نامه دهغو لړوکړنو، په مقابل کې په آرامى سره ترخاورولاندې کړي او سپيو اوليوانو ته مووروانه چوي ...او يوازې دومره مو پرمړي باندې ووايي چي دا هم انسان و، ښه انسان و... او دانسان په نامه يې له انسان (مور.) سره انساني چلند کړى وي ... او مړى مولږ ترلږه د انسان په نامه ترخپله خاوره لاندې کړى اوځمکه هم ددوى په خاطر له مور. سره په نرمى خپل انتقام واخلي ، هو په نرمى ... او رحم...

اوکرچکوف دا ليک خپلي مورته ليکلى و،کرچکوف رښتيا ويلى وو، د ښايسته خان کليوالو کرچکوف له روسانو څخه داسي خوندې وساته ، چي ورځي ورځي يې تول ځايونه پسي ولټول خوويي نه موند، د ۱۹۸۴ کال د نومبرورروستى شپې وې چي کليوالو هغه په خورا درناوي سره خاورو ته وسپاره، نادرجان په هغه ورځ هم هلته و،دکرچکوف پرهديره يې کليوالواوهغه جنګياليو ته چي له لرې اونژدې سيموڅخه دده د درناوي په خاطرراغلي وو، دده په باره ډيررښتيا وويل اوهغه مرستي يې يادې کړې چي ده له افغان جنګياليوسره د سختو جګړوپه ترڅ کړې وي،د وروستي ځل له پاره يې دده دميني وړشعرچي دده ډيرخوښيده دده په قبرباندې ووايه،هغه شعرچي ده به نورو روسانو ته هم په ځانګړى خوند سره وايه:

توره چي تيريږي خو ګوزار لره کنه

زلفي چي ولول شي خو خپل يارلره کنه...

******

دکرچکوف له مړيني لا يوکال سم نه تيرشوى چي په عمرپخي موريي له اشک آباد يا عشق آباد څخه ترمرسلي پورې لاره را ويسته،نادرجان دا دکرچکوف په هرڅه خبره کړې وه ، له هغه سره د کرچکوف قبرته ورغله،يوکال وروسته دهغه واوروواوبارانو وهلي قبرته ودريده او په مورنى احساس يې دهغه له خاورو سره خپله خواله وکړه، نژدې لس شپې هلته وه،هر سهاربه وختي دکرچکوف قبرته ورتله،کليوالو ورته ويلي وو چي دوى د کرچکوف مړى دلته امانت خاورو ته سپارلى دى، که دا غواړي دوى به دهغه په ليږد کې مرسته ورسره وکړي،خو دې دهغوي ټولو په خولو لاس ونيو او ورته ويې ويل:

ـ دده وينه ددې وطن د خلکو له ويني سره خورده ، هغه له خدايه همدا غوښتل چي پاک الله يې غوښتنه ومنله،هغه دلته آرام دى ، زه نه غواړم چي دهغه روح نا رامه شي ...هغه دلته آرام دى اوزه هم ډاډه يم چي هغه همدلته وي... آزادو وا د کرچکوف موروه،کليوال ددې له ژوند او اړيکونه ول خبر،خو وروسته يې ورته وويل چي دا دنامتوغزنيچي افغان ټولواکمن آزاد خان کروسى وه ... آزاد خان...

آزادو وا به هرکال د اوړي په موسم کي غزني ته راتله ، دلته به يې اوږده موده د خپل نيکه پر سيمه له کليوالو سره تيروله، د اوړي په موسم کي به يې د مياشتي په ځوارلسمو کي د سردې په ښکلي بند کي دمرسلي د ځوانى ننداره کوله، اودلته به يې دهرلمانځه په ترڅ کي د کرچکوف روح ته دعاوي کولي، دهغه پرمزاربه يې د کلي له ماشومانوسره يوځاى هره جمعه شمي بلولي اوله غريبانو سره به يې مرستي کولي ...او بيرته به ترکمنستان ته تله...

له هغي ورځي وروسته چي پرافغانستان باندې د پرديو بازان را وبلوسيدل،له هغه وروسته آزادوا بيا افغانستان ته رانغله...دکرچکوف قبراوس هم هلته دى،هرڅوک چي دهغه د قبر په څنګ کي پرعامه لاره ځي او دې پيژني نو بيايي قبرته لاس پورته کوي اودعاوي ورته کوي:

ـ اى ښيونکى خدايه ! د روسي ترکمنانو د هيواد ددې بچى مور. ته بده په نيت کي نه وه ، دخپل روسي پرتم پرضد زموږ په خوا کي ودريد وښيي...

او دې يوازنى روسى پوځي و چي له مرسلي سره دميني په نامه پرهغه خاوره چي د پرديو قدمونه د يوې شيبي له پاره هم په خپلو اوږو باندې نه شي اخيستى تلپاتي شو...

او مرسله لا دنګه ولاړه ده،داد روسانو په مقابله کې د سلګونو فغانانوشهادت اوقربانى شاهد ه ده همدا ده چي تراوسه پورې په نيکو شپو کي کوم نيکمرغه د مرسلي پرسر دستورو ننداره کوي او ستوري شميري،نو وايي چي دا ستوري هغوى دي چي ځانونه يې د انسان اوآزادى له پاره د ميني اوخواخوږى په نا مه قربان کړي دي...

او دوى به ترقيامته پورې دتورتم پرتندي باندې له رڼاوو سره مل اوملګري وي!

پاى

کابل : ۱۳۷۷



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ